## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**1حوت _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

د مهاجرینو چارو وزیر د ارشاد، حج او اوقافو له وزیر سره ولیدل------------------------------------------------1

معین مسلکی وزارت، با رئیس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان دیدار کرد-----------------------1

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو په وزارت کې د نبوي سیرت ازموینه په لاره واچول شوه -------------------------2

بیش از ۱۰ هزار خانواده در ولایات کشور کمک شد --------------------------------------------------------------3

غور ولایت کې ۲۵ تنو ته کاري وسایل وویشل شول--------------------------------------------------------------4

رئیس مهاجرین ولایت بلخ، با نمایندگان شهرک های مهاجرین دیدار کرد ------------------------------------------5

ایران کې تر ۱۰۰۰ زیات مېشت افغان مهاجرین په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستانه شول ----------------5

بیش از ۱۰۰ مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود--------------------------------------------------------6

په میدان وردګو ولایت کې له ۱۵ کورنیو سره مرسته وشوه ------------------------------------------------------6

بیش از هزار مهاجر مقیم ایران، طور داو طلب واجباری به وطن برگشت نمودند -------------------------------------8

د فرانټکس پخواني مشر اروپايي ټاکنو کې له ملي راټولېدنې ښي اړخي ګوند څخه ملاتړ اعلان کړ ------------------8

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزیر د ارشاد، حج او اوقافو له وزیر سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د ارشاد، حج او اوقافو له سرپرست شیخ نورمحمد ثاقب سره دهغه د کار په دفتر کې ولیدل او د مهاجرینو لپاره یې د حج فریضې ادا کولو په تګلاره، سهمونو او نورو اسانتیاو رامنځته کولو خبرې وکړې

تاکل شوې ده، چې سږکال به هم د تېر په څېر ۶۰۰ تنه مهاجرین د حج فریضې ادا کولو لپاره د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له لورې ولېږدول شي

## معین مسلکی وزارت، با رئیس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان دیدار کرد

ویب سایت وزارت




مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان، با آقای لیوناردزولو رئیس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان در افغانستان، در دفتر کارش دیدار نمود.

در این نشست در رابطه به پروژه های قبلی، هماهنگی و همکاری میان وزارت و آن کمیشنری بحث شد.

معین مسلکی وزارت، بر همکاری، انجام تعهدات و اعتماد سازی بیشتر بین طرفین، حل مشکلات و ارایه خدمات از سوی آن کمیشنری تاکید نمود.

آقای زولو، از همکاری و هماهنگی وزارت با کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان ستایش نموده بر حمایت آن سازمان در عرصه های مختلف در آینده در تشریک مساعی با شرکای خویش اطمینان داد.

در این ملاقات روسای دفتر مقام، پالیسی و پلان، هماهنگی مساعدت ها و رسیده گی به وضعیت بیجاشدگان داخلی وزارت نیز حضور داشتند.

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو په وزارت کې د نبوي سیرت ازموینه په لاره واچول شوه

د وزارت ویب سایت




**د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سیرت ازموینه د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت د معلوماتو او څېرنو ریاست له لوري د یو شمېر کارمندانو په ګډون ترسره شوه.**

**د وزارت د دعوت او ارشاد ریاست مدرس مفتي فریدالله حقاني په دې خپرونه کې وینا وکړه او ویې ویل: هغه څوک چې زه یې په اړه خبرې کوم په حقیقت کې حضرت محمد (ص) دی، هغه د د دوزخ له اور څخه د خپل امت د خلاصون لپاره خدای ته ډېرې زاری کړې، هغه (ص) د خپلې کورنۍ په پرتله له امت سره ډېره مینه درلوده، د خدای او د هغه د رسول مینه سره لازم او ملزوم دي.**

**مفتي حقاني وویل، د دې ډول ازموینو پیلول زموږ د پیغمبر(ص) د اخلاقو او ښه چلند ښودنه کوي.**

**د مهاجرینو له پاره د معلوماتو او څېرنو رئیس قاري صابرګل مصلح هم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سیرت د لوستلو او مطالعې پر اهمیت خبرې وکړې.**

**د اطلاعاتو اوعامه اړیکو ریاست د عامه اړیکو آمر عرفان همت ګډونوالو ته د ازموینې د ورکولو او اخیستلو د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړل او زیاته یې کړه: د دې ازموینو ګټونکو ته جایزې او ډالی هم په پام کې نیول شوي دي.**

**د دې سیالیو د ترسره کولو موخه د اسلام د ستر پیغمبر (ص) د ژوند په اړه د لا زیاتو معلوماتو ترلاسه کول دي.**

## بیش از ۱۰ هزار خانواده در ولایات کشور کمک شد

ویب سایت وزارت

در جریان یک ماه( دلو) گذشته بیش از ۱۰ هزارخانواده عودت کننده اجباری و بیجاشده در ۲۴ ولایت ازطریق کمتیه های موظف و واحد های دومی وزارت امور مهاجرین مساعدت شدند.

طبق گزارشات واصله واحد های دومی وزارت امور مهاجرین درولایات قندهار، ننگرهار، بلخ، سمنگان، هرات، بامیان، جوزجان، بادغیس، لغمان، تخار، هلمند، فراه، فاریاب، لوگر، کندز، غزنی، کاپیسا، بغلان، سرپل، پکتیا پکتیکا، خوست، میدان وردک و پروان۱۰ هزار و ۴۹۴ خانواده عودت کننده اجباری و بیجاشده از اثر حوادث طبیعی را با همکاری شماری از سازمان های مدد رسان بین المللی، مساعدت نموده اند.

منابع اضافه نموده اند که مساعدتهای توزیع شده، شامل بسته های مواد غذایی، پوشاک زمستانی، پول نقد، صحی و بخاری بود که درحضور داشت نماینده های نهاد های کمک کننده توزیع شد.

## غور ولایت کي ۲۵ تنو ته کاري وسایل وویشل شول

د وزارت ویب سایت



په غور ولایت کي ۲۵ بې ځایه شویو او راستنېدونکو ښځو ته د سلواغې په ۳۰ مه نېټه کاري وسایل وویشل شول.

یادو کسانو تر دې وړاندې هم د پخلي په څانګه کي د ۶ میاشتو لپاره حرفوي زده کړې ترلاسه کړې وې، چې وروسته د رازي مؤسسې له لوري پر دوی د ۶ ډوله کاري وسایل وویشل شول.

## رئیس مهاجرین ولایت بلخ، با نمایندگان شهرک های مهاجرین دیدار کرد

ویب سایت وزارت



مولوی اسد الله وفا، رئیس امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت بلخ، به منظور حل مشکلات مهاجرین در آن ولایت با نمایندگان شهرک های رسمی و غیر رسمی مهاجرین در شهر مزارشریف بتاریخ ۳۰ دلو دیدار و گفتگو کرد.

رئیس مهاجرین خطاب به نماینده گان گفت: اخیراً هزاران خانواده از پاکستان و ایران به ولایت بلخ آمده اند بنابراین هر زمان که تیم های کمک رسانی به محلات شما می آیند، سعی کنید افراد نیازمند و مستحق را معرفی نماید.

پس از آن نمایندگان مشکلات موجود در مناطق خود از جمله نبود سرپناه بیکاری، کمبود مواد خوراکی و غیر خوراکی را با ریس مهاجرین در میان گذاشتند.

آقای وفا افزود، با همکاری تعدادی از سازمان ها و نهادهای کمک رسان تاکنون این مشکل تا حد زیادی حل شده و مساعدت های لازم دیگر را نیز در نظر گرفته ایم که در اسرع وقت روند توزیع آن برای مستحقین آغاز خواهد شد.

## ایران کې تر ۱۰۰۰ زیات مېشت افغان مهاجرین په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

په ایران کې مېشت ۱ زرو او ۵۹۳ تنه مهاجرین د هرات د اسلام کلا له پولې د سلواغې په ۳۰ مه نېټه خپل هېواد ته راستانه شول.

د اسلام کلا د سرحدي آمر د معلوماتو پر بنسټ، په یادو شویو کسانو کې، چې کورنۍ هم په کې شاملې وې ۳۷۶ تنه اړمن وپېژندل شول او د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته وروپېژندل شول، خوراکي او غیرې خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.

۳۵ تنه بې سرپرسته ماشومان د خپلو کورنیو د پېژندنې په موخه د وارچېلډ مؤسسې ته ور وپېژندل شول، ۳۰ کورنیو ته لس ـ لس زره افغانۍ او ۷۰ تنو ته په وړیا ډول سیمکارتونه په یاده پوله کې د ګومارل شوې کمېټې له لوري ووېشل شول.

## بیش از ۱۰۰ مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

۱۸۳ تن مهاجر افغان به تاریخ ۳۰ دلو از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۱۵ خانواده که شامل ۹۲ تن طور جبری از آن طریق به کشور برگشت نمودند و پس ازثبت اداره مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی، برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.

به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار ۱۸ خانواده که شامل ۹۱ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت دراداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## په میدان وردګو ولایت کې له ۱۵ کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**Web**

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**په میدان وردګو ولایت کې د سلواغې په ۲۹ مه نېټه له ۱۵ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه.**

**ذکر شوې کورنی، چې په خوا د دغه ولایت د مهاجرینو چارو د آمریت له لوري په شرایطو برابرې پېژندل شوې وې، چې وروسته هرې کورنی ته په دوو برخو کې ۱۰ زره او ۲۰ زره افغانی چې د ډنمارک د مهاجرت د شورا له لوري وې، د مهاجرینو چارو د آمریت تر څارنې لاندې وویشل شوې.**

## بیش از هزار مهاجر مقیم ایران، طور داو طلب واجباری به وطن برگشت نمودند

ویب سایت وزارت

**یک هزار و ۶۲۴ نفر مهاجر مقیم ایران به تاریخ ۲۹ دلو ازطریق مرز اسلام قلعه هرات به وطن عودت کردند.**

**به اساس معلو مات آمر سرحدی اسلام قلعه، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۴۳۱ نفر ایشان نیازمند شناسایی وغرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر عذایی را دریافت کردند.**

**۶۸ تن اطفال بی سرپرست به موسسه WARCHILD جهت شناسایی خانواد ها ی شان معرفی، برای ۱۸ خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی ، برای ۶۵ تن یک عدد سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.**

**و تعداد ۳۱۶ تن دیگر از خدمات صحی نیز بهره مند شدند**

## د فرانټکس پخواني مشر اروپايي ټاکنو کې له ملي راټولېدنې ښي اړخي ګوند څخه ملاتړ اعلان کړ

مهاجرنیوز




**د اروپا د پولې ساتنې ادارې یا فرانټکس مخکني مشر فابریس لژېري د تېرې شنبې په ورځ په راتلونکو اروپايي ټاکنو کې د ملي راټولېدنې ګوند څخه خپل ملاتړ اعلان وکړ. په ورته مهال کارپوهان وايي چې نوموړي د فرانټکس د مشرۍ پر مهال هم د کډوالۍ په تړاو د دغه ښي لاسي ګوند سیاستونه تطبیقول .**

**د فرانټکس پخواني مشر فابریس لژېري د شنبې په ورځ د جنورۍ په ۱۷مه ژورنال دو دیمانش ورځپاڼې سره مرکه کې وویل په راتلونکې جون میاشت کې به اروپايي ټاکنو کې د ملي راټولېدنې ګوند سره یو ځای کېږي.**

**نوموړي زیاته کړه چې یاد ګوند یو «مشخص پلان او د خپل پلان د تطبیقولو ظرفیت» لري او دوی مصمم دي چې له کډوالۍ له کړکېچ سره د یوې «پروژې» په چوکاټ کې مبارزه وکړي .**

**دغه پنځه پنځوس کلن لوړپوړي فرانسوي چارواکي چې د ۲۰۱۵ څخه تر ۲۰۲۲ پورې د فرانټکس د مشر په توګه دنده ترسره کړې، ویلي دي: «هدف مې دا دی چې خپله تجربه او مهارت فرانسویانو ته وړاندې کړم. دا ځکه یوه منطقي پرېکړه ده چې ما اوه کاله د فرانټکس مشري کړې او ۳۰ کاله مې دولت کې او په ځانګړې توګه د امنیت او کډوالۍ د مدیریت په برخه کې کار کړی دی«.**

**دمګړۍ د ملي راټولېدنې ګوند مشر جوردن باردلا په نظر پوښتنو کې د شاوخوا ۳۰ سلنې رایو په ترلاسه کولو سره مخکښ دی .**

**»پر ما ډېر فشارونه واچول شول«...**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**په ورته مهال جوردن باردلا پر خپله ابکس پانه فابریس لژېري ته ښه راغلاست ویلی او زیاته یې کړې ده چې دغه چارواکی «استعفا ته اړ شوی دی». په وینا یې ولسمشر مکرون ځکه فابریس لګېري یوازې پرېښود چې هغه «د اروپا د ډوبېدو» پر وړاندې مبارزه کوله .**

**په ۲۰۲۲ کې د فرانتکس مشر فابریس لژېري د اروپا د جعل کارۍ پر وړاندې د مبارزې ادارې یا اولاف راپور او د رسنیو د تحقیقاتو تر خپرېدو وروسته له خپلې دندې استعفا وکړه .**

**د رسنیو د راپورونو له مخې په دغه محرمانه راپور کې راغلي وو چې فابریس لژېري «پروسیجرونه نه دي مراعات کړي» او د »خراب مدیریت» مسولیت پر غاړه لري.**

**خو فابریس لژېري بیا په ځواب کې ویلي دي: «نه اروپایي پارلمان او نه د فرانتېکس اداري شورا دغه تورونه نه دي ثابت کړي. ما غوښتل مهاجرت کنټرول کړم، نو ځکه پر ما ډېر فشارونه واچول شول او احساس مې وکړ چې یوازې پرېښودل شوی یم. د فرانسې حکومت دې ته اړ کړم چې استعفا ورکړم. جرمني نه غوښتل چې زما ملاتړ وکړي. اروپایي کمیسیون غوښتل چې استعفا ورکړم«...**

**دا هم ولولئ**
**<u>راپور: فرانتکس اژه سمندر کې د کډوالو په شا تمبوني په اړه معلومات پټ ساتلي</u>**

**د کډوالو په شا تمبونه**

**که څه هم تر اوسه د اولاف راپور نه دی خپور شوی، خو الماني قانون جوړوونکي اریک مارکاردت د ۲۰۲۲ په مارچ میاشت کې ویلي وو دغه راپور ښیي چې «د فرانتېکس مشرۍ له بشري حقونو څخه د سرغړونې د پېښو په اړه اطلاع درلوده او په قصدي توګه یې د دغو پېښو په اړه راپور نه دی ورکړی«.**

**په یو بل راپور چې لوموند ورځپاڼې او لایت هوز ریپورټز خپور کړی راغلي وو چې فرانتېکس د ۲۰۲۰ د مارچ څخه د ۲۰۲۱ تر سپتمبر پورې له یوناني اوبو څخه د کډوالو په شا تمبونې پېښې د ترکیې په اوبو کې د سفرونو د مخنیوي تر عنوان لاندې ثبت کړې دي.**

**المانۍ ورځپاڼې شپیګل د ۲۰۲۰ په اکتوبر میاشت کې راپور ورکړی و چې د فرانتېکس مسولانو د یونان د ساحلي ځواکونو د غیر قانوني کړنو په اړه معلومات درلودل.**

**د رسنیو او سازمانونو د راپورونو له مخې، فرانتېکس د فابریس لژېري په وخت کې په مدیترانه کې د خپلو الوتکو له لارې د کډوالو د کښتیو موندلو او لیبیا ته یې استولو کې رول درلود. دغه سازمان د کډوالو د بېړیو له لیدو سره بشري او تجارتي کښتیو ته نه بلکې د لیبیا ساحلي ځواکونو ته خبر ورکاوه.**

**دا هم ولولئ**
**<u>د مهاجرو ببرته لیږدونه: د فرانتکس پر وړاندې اروپایي محکمې ته شکایت ثبت شوی</u>**

**»د فعالیتونو منطقي ادامه«**

په ورته مهال د کډوالۍ کارپوهان له ملي راټولېدنې سره د فابریس لژېري یو ځای کېدنه یوه عادي خبره بولي. فرانسوا ګېمن چې د کډوالۍ کارپوه دی کډوال نیوز سره خبرو کې وایي: «دا د هغه د فعالیتونو منطقي ادامه ده. لګېري فرانټکس د کوبایو پر اژانس بدل کړ. هغه پخوا هم د کډوالۍ په برخه کې د ملي راټولېدنې سیاستونه تطبیقول«.

همدارنګه اروپایي استازی او د ګراند سنت پخوانی ښاروال دامین کارېم وايي فابریس لژېري «د جدي تېروتنو (په شا تمبول، د جدي پېښو پټ ساتل، د بشري حقونو د مسولانو په کار نه ګومارل...) له امله استعفا ورکړه

الماني مدافع وکیلې او د بشري حقونو فعالې وېرا مګالي کېلر هم پر خپله ایکس پاڼه لیکلي دي چې «تاسو ته مو ویلي وو». همدارنګه د الارم فون پلټفورم غړي موریس ستیرل لیکلي دي «د تعجب ځای نه دی». نوموړي زیاته کړې چې د لژېري د مشرۍ پر مهال د اروپا پر سمندري پولو ۱۵۰۰۰ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی .